# د افغانستان د توافقتنامه د هم
# غزی او څارنی
# ګډ هیات د حقایقو پانه

د افغانستان اسلامی جمهوریت	یوناما

---

## د هم غږۍ او څارني ګډ هييت
## د ژورنالستانو لپاره حقايق

د افغانستان دولت او نړيوالي ټولني موافقه کړي ده، چې د افغانستان د تړون د تطبيقولو د عمومي ستراتيژيکي هم غږي لپاره يو ګډ هيت جوړ کړي.

د دغه ګډ هيت دري ځانګړي موخي په لاندي توګه دي:
- د افغانستان د تړون د پلي کولو د پرمختګ په هکله د لوړي سطحی نظارت او څارنه.
- د هم غږي د مهمو موضوع ګانو، د تطبيقولو، په تړون کی د معيارونو او مهال ويشونو لپاره مالي مرستي او هر ډول نورو خنډونو او ستونزو سره معاملي چې د حکومت او يا نړيوالو ټولنو په واسطه پيژندل شوي.
- ولسمشر، پارلمان، د ملګرو ملتونو عمومي منشی، دونرانو او خلکو ته د تړون د تطبيق په هکله رپوټ.

د هم غږي او څارني ګډ پلاوي د افغانستان د حکومت له اوو تنو استازو او د نړيوالي ټولني له ۲۱ تنو استازو څخه متشکل دي.

د افغانستان اوه تنه ستازی، د افغانستان د ملی انکشاف د ستراتيژی د نظارت د کميتی غړی دی.

د عمومي منشي ځانګړي استازي (د ګډ رياست يو تن) متحده ايالات، انګلستان، جاپان، جرمني، اروپايي ټولنه، هند، پاکستان، ايران، چين، سعودي عربستان، ترکيه، روسيه، ايساف، ائتلافي ځواکونه، کانادا، هالند، ايتاليا، فرانسه، نړيوال بانک او آسيايي پراختيايي بانک د نړيوالې ټولنې ۲۱ استازي دي.

د هم غږي او نظارت د ګډ هيئت دوه ګډ ريسان:
- داکتر اسحاق نادري، د ولسمشر اقتصادي مشر سلا کار او د افغانستان د ملي پراختيايي ستراتيژي د نظارتي کميتي رئيس.
- ټام کوينګز، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي او په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستی هييت (يوناما) مشر.
-

د تړون مطابق، د هم غږي او نظارت ګډ هيئت بايد د يوي ۵ کلني مودي لپاره، د ۲۰۰۶ کال د اپريل د مياشتي څخه د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر مياشتي پوري (۱۳۸۵-۱۳۸۹) تعين شويدی، او په کال کي لږترلږه څلور بشپړي غونډي جوړي او دوه ٦ مياشتني رپوټونه خپاره کړي. کله چې لازم وي اضافه رپوټونه هم خپاره کړي.